# مخابراتي ماليه: روان کړکېچ، اداري فساد او مناسبه حل لار

اصف حبيبي ــ د جرمني په کايزرزلاوټرن تخنيکي پوهنتون کې د ډوکتورا څېړونکی

د ۱۳۹۴ لمريز کال د تلې پر اوله افغان حکومت او په ځانګړي ډول د مخابراتو وزارت پرېکړه وکړه چې له دې وروسته به هر ټليفوني پېرودونکی له کريډيټ کارت ٪۱۰ ماليه ورکوي. دا ماليه به مخابراتي شبکې له ټليفوني پېرودونکو راټولوي او بيا به يې حکومت ته سپاري، چې د دولت په خزانه کې يې اضافه کړي. د دې ماليې له وضع کولو وړاندې د مخابراتو د وخت وزير عبدالرزاق واحيدي خلکو ته ډاډ ورکړ چې ياد وزارت به دا ماليه د يوه ځانګړي سيستم څخه په ګټې اخيستنې په روڼ ډول له مخابراتي شبکو را ټوله کړي، خو دې خبرې واقيعت نه درلود. د مخابراتي ماليې له وضع کولو وروسته، ماليه ورکوونکو ته د دوی د ماليې په اړه جدي پوښتنې پيدا شوې چې لا تر اوسه پرې رسنيو کې بحث کيږي. کله چې د ٪۱۰ مخابراتي ماليې په اړه اندېښنې رسنيو کې خپرې شوې، ښاغلي واحيدي د خپلې تېرې وينا په خلاف خلکو ته وويل چې لا تراوسه حکومت د مخابراتي ماليې د راټولو لپاره انلاين سيستم نه لري او ډاډ يې ور کړ چې په شپږو مياشتو کې به د يادې ماليې ټولولو ته انلاين سيستم جوړ کړي، خو تر ننه هغه خبرې عملي نه شوې. پر ښاغلي واحيدي يو شمېر نور تورونه او ٪۱۰ مخابراتي ماليه کې اداري فساد هغه اساسي لاملونو وو چې ولسمشر غني د نوموړي دنده وځنډوله.

د مخابراتي ماليې کړکېچ لا هم دوام وموند او ولسمشر د دې ستونزې د حل لپاره ځانګړی کميسيون وټاکه چې د اقتصاد، مخابراتو او ماليې وزارتونو او اړرا اداري يې غړيتوب درلود. په کميسيون کې د تخنيکي کسانو نشتوالی او په چارو کې يې ځنډ هغه اساسي لاملونو دي چې لا تر اوسه يې ثمره نه ده راوړې. پوره دوه کاله وروسته، د ۱۳۹۶ لمريز کال د تلې پر ۱۹ ولسي جرګې ياده ماليه باطله اعلان کړه او پر حکومت يې غږ وکړ چې نور دې مخابراتي ماليه نه ټولوي، خو حکومت د جرګې دا تصميم ناسم وګاڼه او تر ننه يې عملي کړی نه دی. د ولسي جرګې له لوري د ٪۱۰ مخابراتي ماليې له منځ وړل د حل لار نه ده، بلکې د داسې يوه سيستم جوړول چې ماليه په شفافه توګه راټوله کړي د حل يوازينۍ او اساسي لاره ګڼل کيږي. جرګې ته بکار وو چې پر حکومت يې فشار [illegible] ماليه يې له منځه وړې وی. که د مخابراتي ماليې په برخه کې د ولسي جرګې، مخابراتي شبکو او حکومت ترمنځ د پردې تر شا هر ډول او هر څومره کړکېچ روان وي ببله موضوع ده، خو د پراخ اداري فساد له موجوديت پکې هيڅکله هم څوک سترګې نشي پټولی. د روان کړکېچ او اداری فساد برسېره هم حکومت د تېرو دوو کلونو په جريان کې د ۸ اعشاريه ۶ ميليارده افغانيو په شاوخوا کې ماليه راټوله کړې، يعنی هر کال يې ۴ اعشاريه ۳ ميليارده افغانۍ د دولت خزانې ته اضافه کړې.

د ٪۱۰ کريډيټ کارت ماليې برسېره، هره مخابراتي شبکه په افغانستان کې حکومت ته ٪۲،۵ د Telecommunication Development Fund (TDF)، ٪۲ د Spectrum Fee او ٪۲۰ د Profit Revenue په نوم ماليه ورکوي، چې ټولټال ٪۲۴،۵ کيږي. په دې ليکنه کې يوازې پر ٪۱۰ کريډيټ کارت ماليې بحث کيږي، خو پکار ده چې خلک او مدني ټولنې پر ٪۲۴،۵ ماليې هم د ٪۱۰ ماليې په څېر رسنيو

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې بحث وکړي او له حکومت وپوښتي چې له مخابراتي شبکو دا ټوله ۲۴،۵٪ مالیه څنګه راټولوي او چېرته یې لګوي؟

افغان حکومت او مخابراتي شبکې که هر څومره هم د مخابراتي مالیې له شفافیت خلکو ته ډاډ ور کړي، خو چې سیستم یې انلاین کړی نه وي، ګومان نه کیږي چې اداري فساد به له منځه یوسي او یا به هم دا پروسه چټکه کړي .د ولسي جرګې له مخالفت سره سره بیا هم باید کوښښ وشي چې ۱۰٪ مالیه باطله نشي، خو که باطله هم شي باید له مخابراتي شبکو د ۲۴،۵٪ مالیې لپاره ژر تر ژره یو انلاین سیسټم جوړ کړي. د مخابراتي مالیې لپاره د انلاین سیسټم جوړول مالیه روڼولی، پروسه یې چټکولی، اداري فساد له منځه وړلی او له مخابراتي سکټور کلني عایدات لوړولی شي. مخابراتو وزارت او اړتیا اداري ته د مسولو مراجعو په توګه پکار ده چې ژر تر ژره دا پروسه انلاین او بریښنایي کړي. مخابراتي شبکې شاید قصدا ونه غواړي دا پروسه انلاین شي، خو حکومت باید د اداري فساد د مخنیوي لپاره او د داخلي عایداتو د لوړولو لپاره لاس پکار شي.

کله چې د مخابراتي مالیې لپاره انلاین سیستم رامنځ ته شو، نو اړتیا اداري، مالیې او مخابراتو وزارتونو ته پکار ده چې په ګډه د مخابراتي شبکو د تېرو کلونو د مالیې حساب له همدې سیسټم په ګټه اخیستنې یو ځل بیا وکړي. که د مخابراتي شبکو عایدات لوړ وو او په تېرو کلونو کې یې په مالیه کې حکومت ته ناسم ارقام ورکړي وو نو پکار ده چې مجازات یې کړي. د مخابراتي مالیې راټولو لپاره که انلاین سیستم په پوره شفافیت مالیه را ټوله کړه نو پکار ده چې دا سیسټم د هیواد په ټولو سکټورونو لکه بریښنا، ګمرک، ښاروالي، ساختماني چارو، کرنه او نورو کې هم پلی شي.

د مخابراتي مالیې په برخه کې بله ستونزه او د فساد اصلي جرړه ناسم ارقام دي. د اړتیا اداره مسولیت لري چې هر درې میاشتې او یا هم هر کال وروسته د مخابراتي خدمتونو او د پېرودونکو په اړه دقیق ارقام خپاره کړي. خو له بده مرغه د مخابراتو په برخه کې د مخابراتو وزارت یو ډول ، اړتیا یې بل ډول او شبکې یې بل ډول ارقام خپروي. جنوبي سوډان، ایتوپیا او نور افریقایي هېوادونه چې د ځمکې پر سر تر ټولو شاته پاتې هیوادونه دي خو د مخابراتو برخه کې یې د وزارتونو او یا هم د مخابراتي خدمتونو تنظیموونکو ادارو ویب سایټونو ته سر ورښکاره شي نو ګوته به په غاښ شي چې څومره دقیق ارقام هر درې میاشتې ورورسته خپروي او خپلو خلکو ته شفاف حساب ورکوي. زما په نظر افغانستان کې دوه ستونزې دي، څکه له شفافې احصایې او حساب ورکولو چارواکي ډډه کوي: اول ــ تخنیکي کسان چې د احصایې په علم او سافټویرونو کې مهارت ولري دومره کم دي چې په نشت حساب دي او که وي هم څوک یې خبرو ته غوږ نه نیسي. دوهم ــ ځیني چارواکي له حساب ورکولو ډاریږي، څکه همدې کې یې د فساد اصلي راز ده.

## د مخابراتي مالیې په برخه کې د نورو هېوادونو تجربې او سیستمونه

افغانستان یوازینی هېواد نه دی چې له ټلیفوني کریډیټ کارټونو پکې مالیه راټولیږي، بلکې زمونږ ګاونډي او د نړۍ نور پرمختللي هېوادونه هم مخابراتي مالیه را ټولوي. دلته د څلورو ګاونډیو هېوادونوــ هند، پاکستان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنګلدیش او ایران۔ د مخابراتي مالیې بېلګې او ارقام را اخیستل شوي او د دوی د مخابراتي مالیې سیستمونه د افغانستان د مخابراتي مالیې له سیستم سره مقایسه شوي.

پاکستان کې له موبایل پېرودونکو ټولټال ٪۴۱،۵ مالیه اخیستل کیږي چې په درې برخو وېشل شوې ده، ٪۱۵ د استهلاک مالیه(With Holding Tax (WHT ، ٪۷ د مخابراتي شبکې مالیه، او ٪۱۹،۵ د فدرالي لګښتونو مالیه (Federal Excise Duty (FED ده. که یو پېرودونکی په پاکستان کې د ۱۰۰ کلدارو په ارزښت کریډیټ کارټ ټلیفون کې اضافه کړي، ۴۱،۵ کلدارې ورځخه ټولټال مالیه ګرځول کیږي او ۵۸،۵ کلدارې کریډیټ ورته پاتې کیږي.

په ایران کې له موبایل پېرودونکو ٪۹ مالیه اخیستل کیږي. یعنې که یو پېرودونکی د ۵۰۰۰ ریالو په ارزښت کریډیټ کارټ موبایل ته اضافه کړي نو ۴۵۰ ریاله ترې مالیه ګرځول کیږي او ۴۵۵۰ ریاله کریډیټ ورته پاتې کیږي. په بنګلدېش کې له کریډیټ کارټونو ٪۲۱ مالیه اخیستل کیږي چې په درې برخو وېشل شوې ده، ٪۱۵ د مخابراتي خدمتونو د وړاندې کولو مالیه، ٪۵ د مخابراتي شبکو مالیه او پاتې ٪۱ اجباري مالیه ده. په هند کې مخابراتي پېرودونکي ٪۱۸ مالیه ورکوي.

په یادو هېوادونو کې د مخابراتي مالیې پورته ارقام د حکومتونو په تګ راتګ سره کله کله بدلون موموي او ډېری وخت سیاسي ګوندونه دا مالیه د یوې وسیلې په توګه په ټاکنیز کمپاین کې کاروي تر څو د خپلو رایو شمېر ډېر او واک تر لاسه کړي.


دې څلورو هېوادونو مخکې له دې چې مخابراتي مالیه وضع او راټوله کړي انلاین سیسټم یې ورته جوړ کړ بیا یې څو ځله ازمایښت کړ. کله یې چې د سیستم له سمون ډاډ تر لاسه کړ نو پر مالیې را ټولولو یې پیل وکړ ترڅو پروسه یې شفافه وي او مالیه ورکوونکي هم ډاډ تر لاسه کړي چې مالیه یې په سمه توګه د دولت خزانې ته اضافه کیږي. خو د افغانستان قضیې بیا توپیر درلود، ځکه افغان حکومت په څو ورځو کې دننه په ډېره بېړه د موبایل کریډیټ کارټونو ٪۱۰ مالیې په اړه تصمیم ونیو او هم یې ژر تر ژره د راټولو امر وکړ. له بده مرغه د همغه بېړني تصمیم پایله اوس هم محسوسیږي، ځکه تر ننه پکې ژور کړکیچ پروت دی او له پراخ اداري فساد هم پکې سترګې نشي پټېدلی. زما په نظر غوره لار به دا وی چې افغانستان هم د نورو هېوادونو تجربو ته په کتو لومړی یو انلاین سیستم چې مخابراتي مالیه یې په انلاین توګه هره دقیقه، هره ورځ، هره اونۍ او هر کال څارلی جوړ کړی وی. له جوړولو وروسته یې څو څو ځله ازمایښت کړی او بیا یې د مالیې په را ټولولو پیل کړی وی. که افغانستان د ټېکنالوجۍ په برخه کې نوښت نشي کولی حد اقل د نورو هېوادونو سیستمونه خو کاپي او بیا یې د دې هېواد ځانګړتیاو ته په کتو پلي کولی شي.

## مناسبه حل لار

د مخابراتي مالیې په پروسه کې درې لوري ونډه لري چې پیرودونکي، مخابراتي شبکې او افغان حکومت دی. دا پروسه په درې پړاوونو کې ترسره کیږي، لومړی پړاو یې د پېرودونکو او مخابراتي شبکو، دوهمه مرحله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي د مخابراتي شبکو او افغان حکومت او درېمه مرحله يي د افغان حکومت او پېرودونکو تر منځ ده. د پېرودونکو او مخابراتي شبکو ترمنځ د ماليي د ورکړې مرحله (لومړۍ مرحله) تر ډېره بريده شفافه او چټکه ده، ځکه مخابراتي شبکې له پېرودونکو د کرېډيټ کارټ اضافه کولو څو دقيقې وروسته په انلاين توګه٪ ۱۰ ماليه ګرځوي. په دوهمه مرحله کې مخابراتي شبکې حکومت ته راټوله شوې ماليه ورکوي او په درېمه مرحله کې حکومت د راټولې شوې ماليې په اړه ماليه ورکوونکو (ټليفوني پېرودونکو) ته وضاحت او حساب ورکوي او ورته وايي چې کومو برخو کې يي ماليه ولګوله او څه څه کارونه يي د دې هېواد د پرمختګ لپاره پر وکړل. له بده مرغه دوهم او درېم پړاو تر ډېره بريده له فساد ډک او روڼ نه دی. دلته پر داسې طرحه بحث شوی چې څرنګه دوهمه او درېمه مرحله د لومړۍ هغې په څېر شفافه، انلاين او چټکه شي ترڅو د ٪۱۰ مخابراتي ماليې په برخه کې کړکېچ له منځه ولاړ شي، دا مرحلې له فساد پاکې شي او ماليه ورکوونکي ډاډمن شي چې ماليه يي سمه او شفافه د دولت خزانې ته ځي.





لومړی انځور: د مخابراتي ماليې د وړانديز شوې طرحې عمومي جوړښت

لکه چې د لومړي انځور په لومړۍ برخه کې ښودل شوي، هر ټليفوني پېرودونکی له يوې مخابراتي شبکې سره تړلی وي. افغانستان کې چې ټولټال ۷ مخابراتي شبکې فعالې دي هره يوه يي ميليونونه پېرودونکي لري. هره شبکه بيا د چارجينګ او بيلينګ برخه لري، چې د لومړي انځور په دوهمه برخه کې د شبکې له نوم ښکته ليدل کيږي. دا برخه مسوليت لري چې د هرې شبکې له هر يوه پېرودونکي سره د کرېډيټ کارټونو حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکتاب وکړي او هم ور څخه لس سلنه مالیه په انلاین توګه وګرځوي. لومړي سر کې پېرودونکي د کریډېټ کارټ شمېره په ټلیفون کې ډایل کوي او شبکې ته یې لیږي، شبکه ورڅخه ٪۱۰ مالیه ګرځوي او پاتې کریډېټ بیرته پېرودونکي ته لیږي. تر دې ځایه پورې ټوله پروسه انلاین او شفافه ده او په څو دقیقو کې ترسره کیږي. خو د شبکې د چارجینګ او بیلینګ له برخې د دولت تر خزانې پورې پاتې پروسه (دوېمه مرحله) انلاین نه ده. مخابراتي شبکې حکومت ته په کتبي ډول حساب ورکوي او د حساب ورکولو له ډېرو زړو لاروګټه پورته کوي. افغان حکومت او مخابراتي شبکې ادعا کوي چې دواړه لوري د مالیو په راغونډولو او د دولت خزانې ته د پیسو په اضافه کولو کې شفافیت ته پوره پام کوي. خو له تخنیکي پلوه او د نورو هېوادونو تجربو ته په کتو باید دا پروسه حتما انلاین شي او تر هغو به د مخابراتي شبکو او حکومت ترمنځ د مالیو پروسه د فساد اصلي ځاله وي چې د مالیې غونډولو همدا اوسنی ناشفاف سیستم حاکم وي.




دوهم انځور: د مخابراتي شبکو او مالیې ملي مرکز تر منځ انلاین اړیکه

د مخابراتي شبکو او افغان حکومت تر منځ د مالیې د حساب ورکولو د حاکم سیستم بله ستونزه د مسلکي کدرونو کمښت دی. زما د تجربو پر اساس په مخابراتو وزارت او اړوند اداره کې داسې مسلکي کسان چې په تخنیکي، اقتصادي او حقوقي برخو کې پخه تجربه او ژوره پوهه ولري ډېر کم دي، تر څو له مخابراتي شبکو سره د هرې افغانۍ حساب او کتاب وکړي. دا کم شمېر مسلکي کسان خو یا د دې ادارو په نورو چارو کې بوخت دي او یا هم دومره ګوښه شوي چې دا ډول ستر بدلونونه نشي رامنځ ته کولی. مخابراتي شبکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان حکومت له همدې کمزورۍ ټکي په کارولو د ماليې په حساب کې درغلي کولی شي، ځکه پکار ده چې دا پروسه له پيل تر پايه ژر تر ژره انلاين شي. دې موخې ته د رسېدلو او په مخابراتې ماليه کې د پوره شفافيت لپاره دلته د (مخابراتي ماليې ملي انلاين مرکز) د جوړېدلو طرحه وړاندې شوې چې د لومړي انځور په دريمه برخه کې ښودل کيږي.

د مخابراتي ماليې ملي انلاين مرکز بايد په انلاين توګه له ټولو مخابراتي شبکو سره تړلی وي، چې د مخابراتي ماليې دريمه مرحله په پوره ډول انلاين شي او د ماليې را غونډولو پروسه نوره هم چټکه شي. ياد مرکز بايد د Real Time Data Management System (RTDMS) ځانګړنه ولري. هغه سيستمونه چې د RTDMS ځانګړنه لري په انلاين توګه هره دقيقه، هر ساعت، هره ورځ، هره مياشت او هر کال د ټولې راټولې شوې ماليې حساب او کتاب د انسانانو له دخالت پرته ترسره کوي، نو ځکه له تخنيکي پلوه شفافيت پکې ٪۹۹ اټکل شوی.

بل لوري ته د مخابراتي محصولاتو قانون د لسمې مادې پر اساس د اتړا اداره، مخابراتو وزارت او ماليې وزارت مسوليت لري چې د RTDMS په کارولو په انلاين ډول له مخابراتي پېرودونکو ماليه را ټوله کړي. خو تراوسه چې د مخابراتي ماليې عمر هم دوه کلن کيږي، ولې د حکومت پورته اداري برياليې شوې نه دي چې دا سيستم رامنځته او پروسه يې شفافه کړي؟ دوه دليله کيدلی شي: يا خو د چارواکو خبرې او عمل له يو بل سره ډېره فاصله لري او يا هم يادې ادارې په خپل لاس جوړ کړی قانون قصدا د فساد په موخه تر پښو لاندې کوي.

د مخابراتي شبکو او د ماليې ملي انلاين مرکز ترمنځ د وړانديزي طرحې نور جزيات په دوهم انځور کې ښودل شوي او لاندې تشريح شوي. مونږ دلته يوازې د دوو شبکو (سلام او اتصالات) بيلګه راوړې چې دا جوړښت په ټولو شبکو کې پلي کيدای شي، نو ځکه خو فرض کوو چې ټولې شبکې په ورته ډول د مالي له ملی انلاين مرکز سره تړل شوې.

۱: پيرودونکي لومړی د کريډيټ کارټ شمېره ډايل او شبکې ته يې ليږي. دا شمېره د شبکې د چارجينګ او بيلينګ برخې ته چې د کريډيټ کارټونو د حساب مسوليت لري سپارل کيږي. ياده برخه په انلاين توګه ٪۱۰ ماليه ګرځوي او پاتې ٪۹۰ کريډيټ بېرته پېرودنکو ته ليږي. دلته د راجسټر او ناراجسټر سيمکارټونو موضوع ډېر زيات اهميت لري. د شبکې دا برخه بايد يوازې له کريډيټ کارټونو ماليه راټوله کړي او د سيمکارټونو د راجسټريشن موضوع بايد هيڅ په نظر کې ونه ونيسي. له بده مرغه د مخابراتو وزارت او اتړا اداره له کابو ۱۵ کلونو هيسې نه دي توانېدلي چې سيمکارټونه راجسټر کړي او يا هم د پېرودونکو دقيق ارقام ولري. نو ځکه که د سيمکارټونو د راجسټريشن موضوع مطرح شي، د مخابراتي ماليې دا پروسه نوره هم پېچلې کيږي او هر څومره چې دا پروسه پېچلې شي هغومره پکې اړوند لوريو ته د فساد زمينه برابريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: د هرې شبکې له ټولو پېرودونکو د راغونډېږ شوې مالیې د حساب او کتاب لپاره باید یوه ځانګړې انلاین برخه په هره شبکه کې جوړه شي ترڅو په انلاین ډول هره دقیقه، هر ساعت او هره ورځ د راغونډېږ شوې مالیې په اړه پکې پوره وضاحت پروت وي (دوهم انځور کې د اتصالات مالیې او سلام مالیې برخې). دا برخه باید د هرې شبکې د ٪۱۰ مالیې له برخې سره تړل شوې وي. پر دې برخه باید افغان حکومت او په خاصه توګه د اړا اداره او مالیې وزارت واک ولري او هیڅکله هم شبکو ته اجازه ور نه کړي چې د دوی له نظارت پرته پکې کوم بدلون راولي او یا هم د دوی له خوښې پرته دې برخه ته بل څوک لاسرسی ولري.

۳: په هره شبکه کې باید د (شبکې څار برخه) په نوم یوه بله انلاین برخه جوړه شي. د هرې شبکې څار برخه باید د همغې شبکې د چارجینګ او بیلینګ، ٪۱۰ مالیې او د ټولې مالیې له برخو سره انلاین تړلې وي. د شبکې څار برخه باید د همغې شبکې د مخابراتي مالیې د ټولو برخو متواتر او انلاین نظارت وکړي. د شبکې پر څار برخه باید افغان حکومت او په خاصه توګه د اړا اداره او مالیې وزارت پوره واک ولري.

۴: کله چې د پېرودونکو د مالیې حساب په هره شبکه کې پای ته ورسېد نو د دې پروسې اطلاعات باید په انلاین توګه د مخابراتي مالیې ملي انلاین مرکز ته ولېږل شي. لکه د دویم انځور په دویمه مرحله کې ښودل شوي، د هرې شبکې د مالیې او څار برخې د مخابراتي مالیې ملي انلاین مرکز له (پر ټولو شبکو د څار انلاین برخه) او (له ټولو شبکو راغونډېږ شوې مالیې) برخو سره په انلاین ډول نښلول شوي دي.

۵: د (ټولو شبکو د څار انلاین برخه) مسوولیت لري چې د ټولو شبکو د مالیې پروسه وڅاري او هره ګړۍ ډاډ تر لاسه کړي چې پروسه شفافه روانه ده. ځانګړي متخصیصان باید دا برخه مدیریت کړي تر څو شبکې او یا هم بل لوری په ارقامو کې ګوتې ونه وهي.

۶: د (له شبکو را ټولې شوې مالیې) برخه باید له ټولو شبکو سره په انلاین توګه د مالیې حساب او کتاب وکړي. دا برخه باید پوره انلاین وي او هیڅوک باید د دې حق ونه لري چې پکې په پټه او یا هم ښکاره ګوتې ووهي. ځکه د مخابراتي شبکو د بیلینګ برخې ته لاسرسی د مخابراتي خدمتونو د محصولاتو قانون د یوولسمې مادې پر اساس د اړا اداري قانوني حق ګڼل کیږي. دا قانون دا هم وایي چې که یوې شبکې په ارقامو کې هر ډول تحریف را منځ ته کړ او یا یې هم کومه درغلي وکړه نو له ۲۰ تر ۵۰ میلیون افغانیو باید جریمه ور کړي.

۷: لکه څرنګه چې د دویم انځور په دویمه برخه کې ښودل شوي، د مالیې په انلاین مرکز کې باید د ټولو چارو د مدیریت لپاره یوه ځانګړې څانګه رامنځ ته شي. دا څانګه (مخابراتي مالیې د مرکز انلاین مدیریت) باید داسې یو سافټویر ولري چې ټولې برخې مدیریت کړي او په کافي اندازه مسلکي کسان ولري، چې هره کوچنۍ او ستره ستونزه کې ژر تر ژره حل لار ولټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸: د مالیې په انلاین مرکز کې باید د ټولې مخابراتي مالیې اړوند اطلاعات او معلومات په انلاین توګه خوندي شي او د دې کار لپاره (د مخابراتي مالیې انلاین خوندیځ) ته اړتیا ده. دا برخه باید (پر ټولو شبکو د څار)، (له ټولو شبکو راغونډې شوې مالیې) او (مخابراتي مالیې د مرکز انلاین مدیریت له برخو سره تړلې وي. په دې ځانګړې برخه کې باید د هر پېرودونکي او هرې شبکې د مالیې ورځنی، میاشتنی او کلنی راپور او اطلاعات د یو ځانګړي وخت لپاره خوندي وساتل شي. له دې اطلاعاتو د راپورونو جوړولو او شفافیت رامنځ ته کولو په برخه کې ګټه پورته کېدی شي.

۹: د انلاین خوندیځ سربېره باید یو بل افلاین خوندیځ هم وي. د سایبري حملو او امنیتي ستونزو له کبله به دا مناسبه وي چې یو بل خوندیځ د مخابراتي مالیې په مرکز کې رامنځ ته شي ترڅو تخنیکي کسان له انلاین خوندیځ معلومات کاپي او په افلاین خوندیځ کې یې ذخیره کړي. افلاین خوندیځ باید هیڅکله هم له انټرنټ او یا شبکې سره تړلی نه وي، ځکه په سایبري حملو کې که د مالیې مرکز اطلاعات له منځه ولاړ شي نو باید له افلاین خوندیځ د مالیې د حساب او کتاب لپاره ګټه پورته شي.


د مخابراتي مالیې په ملي انلاین مرکز کې باید د پوښتنو ځوابولو او شکایتونو اورېدلو برخه وي. په دې برخه کې باید حکومت هر درې میاشتې او هر کال وروسته مالیه ورکوونکو ته په یوه هر اړخیز راپور کې شفاف حساب ور کړي او هم یې له مطبوعاتو سره شریک کړي. شفاف حساب او راپور ورکول به د مالیه ورکوونکو ټولې پوښتنې ځواب او هغه شکونه چې د مخابراتي مالیې په اړه یې لري له منځه یوسي او ډاډ به تر لاسه کړي چې مالیه یې یوازې د دولت خزانې ته په سمه توګه اضافه کیږي. لکه چې په درېیم انځور کې ښودل کیږي، دا برخه باید په درې ډوله د راپور ورکولو او شکایتونو اورېدلو لارې ولري:

۱: یو ځانګړی ویب سایټ او اپلیکیشن باید رامنځ ته شي چې پکې مالیه ورکوونکي په خپله د مخابراتي مالیې په اړه دقیق ارقام وومي. دا ارقام باید داسې ترتیب او بیا ویب سایټ کې خپاره شي چې د مخابراتي مالیې په اړه پکې هر اړخیز معلومات پراته وي.

۲: د شکایتونو مرکز باید یوه ځانګړې ټلیفوني شمېره ولري، ترڅو مالیه ورکوونکي خپلې پوښتنې او شکایتونه د ټلیفون له لارې مطرح کړي. له بده مرغه، ځینې وخت مخابراتي شبکې له پېرودونکو کریډېټ کارټونه په بېلابېلو پلمو او له کوم دلیل پرته ګرځوي، پېرودونکي باید په دې ډول حالت کې له همدې مرکز سره اړیکه ونیسي. د شکایتونو دا مرکز باید له مخابراتي شبکې سره اړیکه ونیسي او که یې وموندل چې شبکې له کوم دلیل پرته له پېرودونکو کریډېټ کارټ ګرځولی باید مجازات یې کړي.

۳: دا مرکز باید هر درې میاشتې او هر کال د ټولې مخابراتي مالیې په اړه داسې یو هر اړخیز راپور چمتو او له مطبوعات او انټرنټ خپور کړي چې پکې د یادې مالیې پوره معلومات او جزیات ذکر شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دريم انځور: د پېرودونکو د پوښتنو او شکايتونو اورېدلو انلاين مرکز

د يوه انلاين، شفاف او چټک مخابراتي ماليي سيستم رامنځ ته کولو لپاره تر ټولو مناسبه لار د دې سيستم بربښنايي کول دي. مخابراتي ماليه بايد له پيل تر پايه انلاين او برېښنايي راټوله او د دولت خزانې ته انتقال شي. هيڅوک او هيڅکله هم بايد چاته اجازه ور نه کړل شي چې په سيستم کې بدلونونه راولي.

## ځينې اړين وړانديزونه

په دې ليکنه او په ځانګړي ډول تېر عنوان کې پر داسې طرحه خبرې وشوې چې مخابراتي ماليه انلاين او رونږوي. د دې طرحې د لا پياوړتيا او په مخابراتي ماليه کې د روڼتيا يا شفافيت لپاره لاندې اړين ټکي وړانديزېږي.

۱: د مخابراتي ماليي د راټولونې ټول انلاين سيستم بايد هر کال تازه يا اپډېټ شي. ټېکنالوجۍ ډېر چټک بدلون مومي، مخابراتي سيستمونه هر کال نوې ټکنالوجۍ رامنځ ته کوي او دا بدلونونه د بيلينګ او چارجينګ په برخه کې هم رامنځ ته کيږي. ځکه پکار ده چې د مخابراتي ماليي سيستم هر کال له تخنيکي پلوه وکتل او له مخابراتي شبکو سره په سلا مشوره سيستمونه تازه شي.

۲: شبکو ته بايد لاربنوونه وشي چې خپلو بيلينګ او چارجينګ سيستمونو کې د هر ډول بدلون له راوستلو وړاندې حکومت خبر کړي. د ماليې وزارت، اتړا اداري او مخابراتو وزارت استازي بايد هلته وي ترڅو ډاډ تر لاسه کړي چې شبکې داسې سافټويرونه ونه لګوي چې د دې پروسې شفافيت ته زيان ور رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: د مخابراتي شبکو او مالیې ملي انلاین مرکز ترمنځ د اړیکي امنیت ته باید ډېر زیات پام وشي ترڅو هکران او یا هم سایبري غله دې سیستم ته زیان ونه رسوي. دا اړیکه باید هره اونۍ او یا هم هره میاشت ازمایښت شي ترڅو ډاډ تر لاسه شي چې امنیت یې خوندی ساتل شوی.

۴: د مخابراتي مالیې په برخه کې باید اتړا اداره، مخابراتو وزارت او مالیې وزارت مسلکي کسان وروزي. دا کسان باید د مخابراتي مالیې د ټول سیستم په اړه تخنیکي او مسلکي مهارتونه ولري او تل یې نظارت وکړي.

۵: د هر کال په پای کې باید حکومت مالیه ورکوونکو ته شفاف حساب ورکړي. هغوی ته باید دقیق ارقام ووایي چې څومره مالیه یې په روان کال کې را ټوله کړې؟ څومره د دولت خزانې ته اضافه شوې؟ څومره مالیه په کوم ځای کې لګول شوې؟ څومره مالیه پاتې او کله باید ولګول شي؟

اصف حبیبي د اروپایي ټولنې د ساینس او ټکنالوجۍ په یوه څېړنیز پروګرام کې د مخابراتو پر 5G څېړنه کوي او هممهال د جرمني د کایزر زلاوټرن تخنیکي پوهنتون کې پر دوکتورا بوخت دی. نوموړي د لیسانس زدکړې په کابل پوهنتون او ماسټري یې د چک جمهوریت د ساینسي علومو پوهنتون کې کړې ده.

5نومبر 2017 ـ 14 لړم 1396

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**